2 017550 139621

# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲۰مه | ٤٦٦مه ګڼه

کتاب


۴ مخ

## د پرمختګ پیل




که هره ورځ خپلو موخو ته د رسېدو لپاره کار وکړی، خپله ټوله داخلي انرژي به لاسته راوړی او هغه وخت به اګاهانه پرمختګ ستاسې یو عادت ګرځېدلی وي. که تاسې خدای مه کړه تېر وخت ته ور وګرځی او د هغه په یاد کې پاتې شی، له دې ټولو پرمختګونو به پس پاتې شی.

## د خوست سوداګر: روان کال به ۳۰ زره متریک ټنه جلغوزي چین ته صادر شي



د خوست ولایت سوداګرو ویلي، د تېر کال په پرتله سږ کال د جلغوزیو حاصلات زیات او بیه یې دوه برابره لوړه شوې ده.

هغوی اټکل کوي چې سږ کال به د سلګونو میلیونو ډالرو په ارزښت شاوخوا ۳۰ زره متریک ټنه جلغوزي چین ته صادر شي.

هغوی یې عمده لامل د افغانستان او چین تر منځ د هوایي دهلیز پرانیستل بولي، چې له امله یې د دغه ولایت د جلغوزیو بیه لوړه شوې ده.

د دې تر څنګ، د ولسمشر غني له لوري د جلغوزیو پر قاچاق بندیز هم ښایي سږ کال د جلغوزیو د بیې لوړېدو بل لامل وي.

دغه جلغوزي د خوست ښار لوبدیځ لور ته په یوه ځانګړي مارکېټ کې لومړی چاڼ او بیا په بوریو کې تر بسته بندۍ وروسته، چین ته د استولو لپاره کابل ته لېږدول کېږي.

د جلغوزیو د سوداګرو په خبره، دغه ځای کې د جلغوزیو د پاخه من نرخ چې ۵۰ کیلوګرامه دی، شاوخوا ۱۲۵ زره افغانۍ دی.

# بالاخره د زندانیانو بریالی تبادله؛

## طالبان: دا یو مثبت اقدام و، د سولې له پروسې سره مرسته کولی شي




۲

تبادله، خرنګوالی او اغېز یې

۲ مخ

آیندهٔ صلح در افغانستان؛ کشمکش های منطقوی و استراتیژی های جهانی

۲ مخ

د مالي سیاست اهداف او وسایل

۵ مخ

## سرچینې: د چین بین الافغاني ناسته د ګډونوالو پر سر د اختلاف له کبله بیا ځنډېدلې

د بیجېنګ بین الافغاني ناسته چې ټاکل شوې وه د نومبر په ۲۱مه تر سره شي، د افغان حکومت له لوري د معرفي کېدونکو کسانو او د ګډون کوونکو د لېست پر سر د اختلاف له امله د دویم ځل لپاره ځنډېدلې ده.

افغان حکومت ویلي، دغه ناسته به په راتلونکو څو ورځو کې وشي، خو یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط کابل نیوز ته ویلي، چې ښايي د بیجېنګ ناسته د نومبر په ۲۹مه او یا هم ډسمبر میاشتې ته وغځېږي.

ویل کېږي، حکومت غواړي په غونډه کې د برخه اخیستونکو کسانو ۲۵ کسیز لېست پخپله جوړ کړي او ځینې سیاسي مشران ترې وباسي، خو طالبان د حکومت له خوا جوړېدونکی لېست نه مني او سیاسي مشران هم پر لېست او بیجېنګ ناستې د حکومت له انحصار سره مخالف دي.

پخواني طالب چارواکي مولوي جلالدین ویلي: «حکومت تر اوسه پر دې نه دی توانېدلی چې داسې هیئت د ملاقات لپاره برابر کړي، چې د ټولو جریانونو ورباندې توافق وي او نه هم د حکومت له اړخه د ټولو جریانونو سره مشوره شوې». د ملي شورا غړي دغه راز ناستې د بین الافغاني خبرو د پیلېدو لپاره مهمې بولي، خو وایي، حکومت باید د بیجېنګ ناستې ته داسې پلاوی معرفي کړي، چې ټولو ته د منلو وړ وي.

د بیجېنګ بین الافغاني ناسته داسې مهال د دویم ځل لپاره ځنډېږي، چې له دې وړاندې په دوحه کې هم د بین الافغاني ډیالوګ ناسته د غونډې د برخه والو پر لېست د اختلافونو له امله ځنډېدلې وه.

## په راتلونکي اونۍ کې به د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان شي




۵ مخ

## حکمتیار: حکومت و کمیسیون مستقل انتخابات مسئول بحران احتمالی است



گلبدین حکمتیار، نامزد انتخابات ریاست جمهوری، این انتخابات را «پر از تقلب» خوانده و گفته است اگر این تقلبان باعث بحران شود، حکومت و کمیسیون مسئول آن خواهد بود.

آقای حکمتیار دیروز در نشستی در کابل با انتقاد از کندکاری در روند تفتیش و شمارش آرا گفت که انتخابات ریاست جمهوری ششم میزان پُر از «تقلب» بود و او رئیس جمهور «تحمیلی» را نخواهد پذیرفت. این نامزد ریاست جمهوری تأکید کرد که مسئولیت هر گونه بحرانی که پیش بیاید، به دوش حکومت و کمیسیون مستقل انتخابات خواهد بود.

او گفت: «مسئولیت عواقب بد صحه گذاشتن به تقلب، اعلان نتایج قلابی و مذورانه متوجه عاملان تذویر و تقلب خواهد بود. نه کسانی که از حق مشروع خود دفاع می کنند».

آقای حکمتیار همچنان شرکت درملوگ را به زمینه‌سازی برای «تقلب» متهم کرد و خواهان «محاکمه» این شرکت شد.

این نامزد ریاست جمهوری با انتقاد از میزان پایین مشارکت مردم در انتخابات، گفت که با توجه به این موضوع، اعلام پیروزی رئیس جمهوری آینده چیزی شبیه «کودتا» خواهد بود.

اما دفتر ریاست جمهوری افغانستان این نگرانی‌های آقای حکمتیار را اظهارات قبل از وقت می‌داند. یکی از سخنگویان دفتر ریاست جمهوری گفته که نامزدان باید منتظر بمانند تا کمیسیون کارهایش را مطابق قوانین انجام دهد و نتایج انتخابات را اعلام کند. از سوی دیگر، کمیسیون مستقل انتخابات می گوید که این کمیسیون به هیچ فردی اجازهٔ مداخله در امور کاری‌اش را نداده است و نمی‌دهد و نامزدان می‌توانند که شکایت‌های خود را به کمیسیون مستقل انتخابات بفرستند.



دریــځ

## تبادله، څرنګوالی او اغېز يې

د امريکايي پوهنتون د دوو استادانو په بدل کې د دريو مهمو طالبانو د خلاصون پروسه پرون بشپړه شوه. ورمه شپه انس حقاني، مالي خان او حافظ عبدالرشيد قطر ته ورسېدل او پرون غرمه د امريکايي پوهنتون استادان په زابل کې امريکايي ځواکونو ته تسليم شول. طالبانو هم په رسمي توګه تاييد کړې چې له امريکايي لوري سره يې تبادله په بريالۍ توګه بشپړه شوې ده. وسله والو طالبانو په يوه اعلاميه کې ويلي چې دا مسئله به د باور فضا رامنځ ته کړي او د سولې له بهير سره به مرسته وکړي. دوی له دې سره پر يو وخت د لسو افغان سرتېرو د خوشي کولو خبره هم کړې ده.

له اوږده وخت راهيسې امريکايي لوری په دې هڅه کې و چې د امريکايي پوهنتون استادان خلاص کړي. لومړۍ هڅه يې دا وه چې د شپنيو عملياتو او چاپو پر مټ دا کار وکړي، خو بريالي نه شول. وروسته يې بيا بيا له طالبانو وغوښتل چې د حسن نيت په خاطر دا کسان خوشي کړي، خو طالبانو تل د تبادلې خبره کوله. امريکايي اړخ به د ولسمشر غني هغه خبره بيا بيا کوله چې انس حقاني او ملګري به يې په دې شرط خوشي شي، چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضر شي، خو طالبانو دا غوښتنه نه منله. وروسته امريکايي اړخ حاضر شو چې د طالبانو غوښتنه ومني. خليلزاد دوې اونۍ وړاندې قطر ته ولاړ او په دې اړه يې له طالبانو سره يوه هوکړه لاسليک کړه. که څه هم ولسمشر غني مقاومت وکړ، خو بالاخره امريکايي اړخ ته تسليم شو، تبادله يې ومنله او له خپلې غوښتنې تېر شو. دا دي له يوڅه ځنډ وروسته دا تبادله وشوه.

اوس پوښتنه دا ده چې دا تبادله به پر سوله څه اغېر وکړي؟

ولسمشر غني په خپله وينا کې دا چاره له دې سره غوټه کړې وه چې مخامخ خبرو ته به لاره هواره کړي، خو داسې نه ښکاري چې دا چاره به طالبان دې ته حاضر کړي چې له حکومت سره مخامخ خبرې وکړي. له يوه اړخه دا د حکومت شرط و، چې طالبانو رد کړ. له بله اړخه دا بنديان د امريکايانو او طالبانو تر منځ په معامله کې خوشي شوي دي. که دا معامله د حکومت او طالبانو ترمنځ شوې وی، يا د حسن نيت په خاطر د حکومت له خوا خوشي شوي وی، نو بيا به يې له بين الافغاني خبرو سره مرسته کړې وی او ښايي له حکومت سره په خبرو کې د طالبانو دريځ نرم شوی وی. خو اوس د امريکا او طالبانو معامله وه، نو ځکه پر بين الافغاني خبرو او له حکومت سره د خبرو په تړاو به د طالبانو پر دريځ کوم مثبت اغېز ونه لري.

له دې سره همهاله دا شونتيا شته چې دا چاره به د امريکا او طالبانو تر منځ د خبرو له بيا پيل سره مرسته وکړي. د طالبانو له خوا دې معامله ته د حسن نيت نوم ورکړل شوی او خليلزاد هم طالبانو ته ويلي وو چې دا چاره به په امريکا کې له طالبانو سره د خبرو د بيا پيل ملاتړي ډېر کړي. اوس به خليلزاد او ملګري يې يو ځل بيا ټرمپ ته دا تبادله د طالبانو د حسن نيت په حيث وړاندې کوي او ترې غواړي به چې خبرې بيا پيل کړي. ښايي خبرې سم له لاسه پيل نه شي، خو له شک پرته دا تبادله له طالبانو سره د امريکا د خبرو له بيا پيل سره مرسته کولی شي.

# بالاخره د زندانیانو بریالۍ تبادله؛

## طالبان: دا يو مثبت اقدام و، د سولې له پروسې سره مرسته کولی شي




له اوږدو ناندريو او کشمکشونو وروسته، د طالبانو او امريکا تر منځ د زندانيانو تبادله په بريالۍ توګه تر سره شوه. د دوشنبې د ماښام په اتو بجو د طالبانو درې مهم کسان د بګرام له زندانه د قطر پلازمېنې دوحې ته ورسول شول او په بدل کې يې پرون د امريکايي پوهنتون دوه بهرني استادان د طالبانو له لوري خوشي شول. طالبانو دغه کار يو مثبت ګام بللی دی او وايي، دا به د سولې په برخه کې د پرمختګونو سبب شي. افغان حکومت بيا په دې اړه غبرګون نه دی ښودلی، خو امريکايي چارواکو په دې تړاو له ولسمشر غني سره خبرې کړې دي.

له څو اونيو راهيسې د طالبانو او امريکايانو تر منځ د زندانيانو د تبادلې ګنګوسې خپرېدې. تر دې چې تېره اونۍ د دريو طالب زندانيانو د خوشي کېدو خبر خپور شو. افغان ولسمشر په رسنيو کې راڅرګند شو او په خپلو خبرو کې يې وويل چې د سولې د هڅو او باور فضا د رامنځ ته کېدو په خاطر يې دا د زهرو ګوټ کړی دی او د انس حقاني په ګډون يې د دريو مهمو طالب زندانيانو د خلاصون پرېکړه کړې ده. خو طالب زندانيان قطر ته تر رسېدو مخکې بېرته بند ته ولېږدول شول او د نامعلومو دلايلو له امله د زندانيانو تبادله وځنډېده. طالبانو يې لامل د امريکايانو له لوري د نوو ژمنو رامنځ ته کول ښودل شوي وو، خو حکومت او امريکايي لوري يې دليل واضح نه کړ.

ورمه ورځ دوشنبه د شپې اته بجې دوحې ته د دريو طالب زندانيانو د رسېدو راپورونه خپاره شول. له دې سره همهاله د امريکا د بهرنيو چارو وزير او همدا راز د ولسمشر ټرمپ د ملي امنيت سلاکار په جلا جلا توګه له ولسمشر غني سره تليفوني خبرې وکړې او ده ته يې ډاډ ورکړ چې امريکا د افغان پوځ تر څنګ ولاړه ده. مايک پامپيو ويلي وو چې د طالب زندانيانو خوشي کول د سولې په برخه کې مهم رول لوبوي او د سولې فضا به رامنځ ته کړي. دوی ډاډ ورکړی و، چې که طالبان له دغه حسن نيت د جګړې لپاره ګټه واخلي، نو امريکا به د افغان ځواکونو تر څنګ درېږي.

تېره ورځ ناوخته بيا په رسنيو کې داسې راپورونه هم خپاره شول چې د امريکايي پوهنتون دوه استادان د طالبانو له لوري خوشي شوي دي. امريکايي پوهنتون هم په يوه اعلاميه کې وويل چې د استادانو د خوشي کېدو په تړاو يې راپورونه تر لاسه کړي دي او د دې خبر هرکلی کوي. په اعلاميه کې راغلي: ((موږ د خپلو دوو استادانو د خوشي کېدو له خبرونو هرکلی کوو، هيله لرو دوی ژر تر ژره له خپلو کورنيو سره يو ځای شي)).

سره له دې چې افغان حکومت تر اوسه د دغې تبادلې په اړه معلومات نه دي خپاره کړي، خو طالبانو بيا تېره ورځ ناوخته په يوه اعلاميه کې د خپلو زندانيانو خوشي کېدل د سولې لپاره ګټور بللي دي. وسله والو طالبانو دا يو مثبت ګام بللی او د هغه هرکلی يې کړی دی. په اعلاميه کې راغلي: ((زموږ د دريو بنديانو انس حقاني، حاجي مالي خان او حافظ عبدالرشيد د خوشي کېدو په اړه مثبت اقدام شوی دی، هرکلی يې کوو)).

وسله والو طالبانو په خپله اعلاميه کې دغه ګام د سولې لپاره هم مهم بللی دی. په اعلاميه کې راغلي چې دغه ډول ګامونه د باور جوړولو او سولې په برخه کې مهم پرمختګونه راوستلی شي. سرچينه کاږي: ((دا ټولې کړنې د اعتماد جوړونې او ښه نيت لپاره ښه پرمختګ دی او د سولې له بهير سره مرسته کولی شي)).

طالبانو داسې مهال په رسمي توګه د خپلو زندانيانو او امريکايي استادانو د خوشي کولو خبرونه تاييد کړل، چې افغان حکومت د انس حقاني خوشي کول د ځان لپاره سره کرښه بللې وه. خو وروسته ولسمشر غني وويل چې دغه کسان په مشروطه توګه خوشي کړل شوي دي. دا چې دغه تبادله به د سولې له پروسې سره مرسته وکړي او که نه، وخت به يې وښيي؛ خو په سياسي کړيو کې دغه تبادله ستايل شوې او د باور جوړونې لپاره مهمه بلل شوې ده.

## پامپيو: امريکا په لوېديځه غاړه کې د يهودانو مېشت ځايونه نور ناقانونه نه بولي



د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ويلي، په لوېديځه غاړه کې د يهودانو مېشت ځايونه نور غيرقانوني نه بولي. په ورته وخت کې د اسراييلو لومړي وزير د پامپيو د دغو څرګندونو هرکلی کړی، خو فلسطيني اداري بيا د نوموړي دغه اقدام غندلی دی.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو تازه ويلي چې واشنګټن نور باور نه کوي چې په فلسطيني سيمو کې يهودي مېشت ځايونه له نړيوال قانون سره په ټکر کې دي.

د پامپيو دغه څرګندونې ظاهراً د امريکا متحده ايالتونه له ټولو هېوادونو او د ملګرو ملتونو د امنيت شورا له پرېکړه ليکونو سره په ټکر کې اچوي او هغه هم په داسې وخت کې چې په اسراييلو کې کېڼ اړخی سياستوال بيني ګنتز هڅه کوي چې بينامين نتانياهو له مخې لرې او نوی حکومت جوړ کړي.

پامپيو په واشنګټن کې په يوه خبري کنفرانس کې ويلي، وروسته له هغې چې د دغې مسئلې ټول قانوني اړخونه يې دقيق مطالعه کړل، امريکا دې نتيجې ته رسېدلې چې په لوېديځه غاړه کې د ملکي وګړو لپاره د اسراييلو د مېشت ځايونو جوړول، له کوم دليل پرته له نړيوال قانون سره په ټکر کې نه دي.

پامپيو زياته کړې، دا چې دغه د ملکي وګړو مېشت ځايونه له نړيوال قانون سره په ټکر کې وبلل شي، دا نور کار نه ورکوي او دا د سولې د پرمخ وړلو پر وړاندې خنډ نه شي انګېرل کېدای.

هغه دغه راز ويلي، چې د لوېديځې غاړې موقف بايد اسراييل او فلسطينيان دواړه د خبرو له لارې حل کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا پاليسي تر اوسه پر هغې قانوني نظريې ولاړه وه چې په ۱۹۷۸ ز کال د امريکا بهرنيو چارو وزارت جوړه کړې وه او له مخې يې يوه لسيزه مخکې د اسراييلو له خوا اشغال شوې فلسطيني سيمې له نړيوال قانون سره په ټکر کې بللې.

په ورته وخت کې د اسراييلو لومړي وزير بينامين نتانياهو د پامپيو د دغو څرګندونو هرکلی کړی او ويلي يې دي چې دغه وينا يوه تاريخي تېروتنه اصلاح کوي. د فرانس پرېس خبري آژانس د راپور له مخې، نتانياهو په يوه بيان کې ويلي چې دغه پاليسي د تاريخي حقيقت څرګندونه کوي او هغه دا چې په يهودا او سامارا کې يهودان بهرني استعمارګر نه دي او په انجيل کې لوېديځه غاړه په دغه نوم يادېږي.

خو فلسطيني اداري د مايک پامپيو دغه څرګندونې په کلکو ټکو غندلې او ويلي يې دي چې د امريکا د پاليسۍ دغه بدلون بشپړ له نړيوال قانون سره په ټکر کې دی.

## ملګري ملتونه: د ټرمپ له خوا په افغانستان کې پر جنګي جرمونو د تورنو پوځيانو بښل د اندېښنې وړ دي



د ملګرو ملتونو د سازمان د بشري حقونو عالي کمېشنرۍ د امريکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ وروستی اقدام چې په افغانستان کې پر جنګي جرمونو دوه تورن پوځيان يې وبښل او د يو بل تورن پوځي رتبه يې بېرته ورکړه، د اندېښنې وړ ګڼلې دي.

د دغې ادارې وياند روپرټ کولوايل، خبريالانو ته ويلي چې دغه اقدام کېدای شي د نړۍ په ګوټ ګوټ کې نورو پوځيانو ته ناوړه پيغام ورسوي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټرمپ د تېرې اونۍ تصميم د دريو پوځيانو د بښنې په اړه و چې په افغانستان او عراق کې د پوځي ماموريت په ترڅ کې په جنګي جرمونو کې ښکېل شوي وو او د ملکي وګړو پر وژنه تورن شوي دي.

ټرمپ د دغو سرتېرو له بښنې وروسته وويل چې له هغوی سره منصفانه برخورد نه و شوی.

خو کولوايل ويلي، د پلټنو او د هغو تورونو د قانوني تعقيب ناکامي چې دغه پوځيان پرې تورن شوي وو، پخپله له نړيوالو قوانينو څخه څرګنده سرغړونه ده.

هغه وويل چې په ځانګړې توګه په ۲۰۱۰ ز کال کې په افغانستان کې د يو ملکي وګړي پر وژنه د تورن امريکايي پوځي متيو ګلستين د تحقيقاتو بندول ځوروونکي دي.

د دغو پوځيانو د عفوې تصميم په تېرو ورځو کې هم دننه په امريکا کې اعتراضونه زېږولي وو چې له هغې جملې د امريکا د مدني ازاديو اتحاديې دغه اقدام د امريکا د جمهوري رياست له خوا له واک او صلاحيت څخه ناوړه ګټه اخيستنه ګڼلې ده.

# آیندۀ صلح در افغانستان؛ کشمکش های منطقوی و استراتیژی های جهانی

نویسنده: اجمل جلال
عضو مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

**بخش دوم:**

**محورهای منطقوی و نقش آنها در روند صلح**

**محور اول: روسیه، ایران، پاکستان و چین**

فعالیت ها و تحرکات ماههای اخیر در قبال صلح افغانستان نشان دهنده اینست که کشورهای روسیه، پاکستان و چین به این باور رسیده اند که صلح در افغانستان نیاز منطقه است. دلیل این باور بیشتر مسایل اقتصادی است. پاکستان بنابر دلایل اقتصادی ولی با توجه جدی به مسایل سرحدی، به صلح در افغانستان، تا حدی به خواست خود و تا حدی زیر فشارهای خارجی، دلچسپی نشان می دهد. با تیرگی روابط بین افغانستان و پاکستان، پاکستان از بازارها و امکانات آسیای میانه محروم شده است، تجارت بین افغانستان و پاکستان از ۲.۷ میلیارد دالر در سال ۲۰۱۵ میلادی به کمتر از ۱.۷ میلیارد دالر کاهش یافته است. افغانستان در سال های اخیر ۷۰ در صد از تجارت خود را با ایران، هند و چین انجام می دهد، که این برای پاکستان به معنی باختن بیش از ۵۰ در صد سهم در مارکیت افغانستان است. به این ترتیب، پاکستان در بحران کامل اقتصادی به سر می برد.

برای نجات از این بحران در یک توافق با عربستان خواهان سرمایه گذاری آن کشور در پاکستان شد، ولی سرمایه گذاری عربستان بنابر خواست امریکا، مشروط به همکاری پاکستان در پروسۀ صلح افغانستان شده است. وعدۀ سرمایه گذاری امارات متحده عربی در پاکستان هم مشروط به همکاری پاکستان در امور صلح افغانستان است. دو کمپنی بزرگ امریکایی هم وعده سپرده اند که سرمایه گذاری میلیارد دالری را در پاکستان انجام دهند، به شرط اینکه پاکستان در صلح افغانستان همکاری لازم نماید. پروژۀ تاپی و کاسا ۱۰۰۰ از پروژه های بزرگ انتقال انرژی از آسیای میانه به پاکستان و هند است. این دو پروژه هم نیز بدون ثبات در منطقه ممکن نیست تکمیل گردند. به همین دلیل، در ثبات افغانستان منافع اقتصادی پاکستان تأمین می شود و پاکستان به این امر آگاه است.

در پهلوی مسایل اقتصادی، مسئله خط دیورند و عدم همکاری افغانستان و هند با اقوام پشتون و بلوچ آن سوی خط دیورند، یکی از شرط های اساسی همکاری پاکستان در امور صلح افغانستان است. درین مورد پاکستان، با توجه به مهم نبودن مسئله خط دیورند برای امریکا، دول همسایه و سایر کشورهای دخیل در قضیه افغانستان و ضرورت اشد افغانستان به صلح، در وضعیت قوی قرار دارد. به خاطر رسمی ساختن خط دیورند، لابی پاکستان در واشنگتن کوشش کرده است کمک های مالی امریکا به افغانستان را مشروط به رسمیت شناختن خط دیورند از طرف این کشور سازد. هم چنان، برای کشاندن طالبان به میز مذاکرات چانه زنی های شدیدی برای جلب حمایت بین المللی برای این خط مرزی از طرف پاکستان صورت می گیرد. ثبوت خوب این ادعا اظهارات مکرر براد شیر من برای به رسمیت شناختن این خط مرزی است. افغانستان شاید نتواند به شکل رسمی (de jure recognition ) مسئله خط دیورند را حل نماید ولی به شکل غیر رسمی( de facto recognition )، به شناخت آن به عنوان خط سرحدی ادامه خواهد داد. شاید افغانستان به پاکستان اجازه دهد که همه ای آن فعالیت های که روی یک خط سرحدی رسمی بین دو کشور صورت می گیرد، را انجام دهد که این کار، به عنوان شناخت غیر رسمی، آهسته آهسته راه را برای شناخت رسمی این خط در مراجع بین المللی باز خواهد کرد.

روسیه یک تفاوت اساسی بین گروه طالبان با سایر گروه های مسلح (به خصوص داعش) در منطقه می بیند. ایدیالوژی طالبان محلی است و حدود آن محدود به سرحدات افغانستان است. در حالی که گروه های مسلح دیگر (حتی گروه های ازبک) با ایدیالوژی های محلی باور ندارند، بلکه جهانی فکر می کنند. به همین دلیل می توانند به سادگی خطری به امنیت ملی هر کشوری در جهان واقع شوند. داعش به عنوان یک خطر بالفعل در منطقه منافع روسیه را در آسیای میانه تهدید می کند. هرچند هنوز در ساحه محدودی از افغانستان فعالیت می نمایند ولی مؤثریت خود در عملیات را در سایر نقاط افغانستان مدعی شده اند. روسیه می داند که ادامه جنگ در افغانستان باعث بستر سازی بیشتر برای داعش می شود و راه جلب و جذب جنگجویان ازبک و تاجک را به داعش ساده تر می سازد. جلب و جذب جنگجویان، آسیای میانه (سرحدات جنوبی روسیه) را به مرکز جنگ و دسایس بین المللی تبدیل خواهد کرد. به همین دلیل روسیه می خواهد راه رشد داعش را در افغانستان، از طریق ایجاد حکومتی که طالبان در آن سهم فعال داشته باشند، بگیرد. طالبان با داعش نمی سازند و روسیه با طالبان رابطه ای خوب دارد. چین اما اقتصادی فکر می کند و به فکر ثبات سیاسی در منطقه است تا پروژه های کلان اقتصادی خود را از خطرهای چون داعش محفوظ نگهدارد. پروژه ای چندین میلیارد دالری (یک سرک – یک کمربند) که چین را با جهان وصل می کند، از طریق آسیای میانه به اروپا وصل شده است. یکی از دهلیزهای مهم این کمربند اقتصادی از پاکستان می گذرد. هر چند افغانستان از محدوده ای این کمربند بیرون مانده است ولی در وصل این کمربند به جنوب آسیا رول مهمی بازی کرده می تواند. چین می داند که پروژه چندین میلیارد دالری اش بدون ثبات در منطقه به ناکامی مواجه خواهد شد و کلید ثبات منطقه افغانستان است. به همین دلیل پلاتفورم سه جانبه دیالوگ امنیت و اقتصاد بین کشورهای چین، افغانستان و پاکستان در سال ۲۰۱۷ میلادی به ابتکار چین به وجود آمده است. خلاصه اینکه، ضرورت شدید چین به ثبات در منطقه اثرات مثبتی روی پروسه صلح در افغانستان خواهد داشت.

ایران در قبال صلح افغانستان در وضعیت متفاوتی قرار دارد. هر چند ثبات در منطقه به نفع همه کشورها است. ولی این ثبات تعادل بازارهای اقتصادی را هم به نفع افغانستان تغییر می دهد. از یک طرف ایران برای ارتباط با هیچ یکی از بازارهای اقتصادی جهان نیازمند افغانستان نیست، از طرف دیگر افغانستان با ثبات به معنی کشوری است که منابع آبی خود را کنترول خواهد کرد، مزارع زعفران و سایر محصولات زراعتی از وابستگی این کشور به محصولات کشورهای همسایه خواهد کاست، و تولیدات صنعتی راه ورود وسایل ابتدایی و ضروری زندگی روزمره افغانستان را کاهش خواهد داد. این تغییر تعادل به نفع افغانستان در مورد ایران خوب صدق می کند. ایران این موضوع را خوب درک می کند؛ اظهار تشویش ایران در مورد آب های سرحدی، بندهای آب روی دریاها در داخل افغانستان و حتی رشد زراعت زعفران در ولایت هرات، نشان می دهد که این کشور از صلح در افغانستان چندان راضی نباشد. با وجود آن؛ تفاوت مذهبی بین گروه طالبان و ایران شیعه، و نیاز روسیه و چین به صلح در افغانستان، امکانات تخریب پروسۀ صلح برای ایران را به کمترین حد آن می رساند. به همین دلیل به جای کوبیدن سر به دیوار، دست دوستی و همکاری با طالبان داده است تا در حالت جنگ و صلح دست به تأمین منافع خود زده باشد.

**محور دوم: امریکا و کشورهای خلیج**

سیاست امریکا در قبال صلح در افغانستان مبتنی بر تاکتیک های کوتاه مدت و منافع است که هر لحظه می تواند تغییر کند. این منافع و تاکتیک ها به سختی قابل درک و پیش بینی اند. برای فعلاً معلوم می شود که امریکا می خواهد با طالبان صلح نماید و اما قضیه داعش؛ فعالیت های داعش در افغانستان مشکوک اند، تمویل، رشد و فعالیت شان معلوم می شود کار منظم استخبارات باشد تا یک گروه خود جوش. با یک نظر گذرا می توان ایدیالوژی سلفی – سعودی و امکانات استخباراتی غربی را درین گروه مشاهده کرد. از طرف دیگر روابط جنجالی ایران با امریکا و کشورهای عربی به پیچیدگی قضیه می افزاید. با وجود آن؛ صلح با طالبان و خروج نیروهای خارجی، مشروعیت جنگ در افغانستان را از بین برده و زمینۀ رشد فکر سلفی – سعودی را به شدت صدمه می رساند که این به نفع افغانستان است. قضیه کشورهای خلیجی اما واضح است، آنها در موازات با منافع و تصامیم امریکا عمل می کنند. در رقابت منطقوی بین ایران و عرب ها، اعراب نیازمند همکاری نظامی و استخباراتی امریکا اند. به همین دلیل، اگر تصمیم امریکا در مورد صلح افغانستان جدی باشد، کشورهای عربی جداً به آن لبیک گفته و همکاری لازم می نمایند.

**اولویت های سیاست منطقوی افغانستان**

افغانستان هم درین بازار کشمکش های سیاسی، نظامی و اقتصادی اولویت های دارد که اگر جداً به آن توجه نه شود و برای به دست آوردن آن بسیج ملی صورت نه گیرد، با حوادث خطرناک روبرو شده و یک بار دیگر به مرکز رقابت های کشورهای منطقه و جهان تبدیل خواهد شد.

**بازگشت صلح و ثبات سیاسی در کشور**

در طول ۴۰ سال گذشته جنگ همه ای سرمایه های این کشور را از بین برده است که به دست آوردن دوباره آنها ممکن نیست جز از طریق صلح و ثبات دوامدار در کشور. اولین مرحلۀ صلح و ثبات سیاسی در کشور جلب گروه طالبان به زندەگی عادی و دادن سهم فعال برایشان در سیاست کشور است. مردم افغانستان و دولت مردان باید بپذیرند که گروه طالبان واقعیت جامعه امروزی افغانستان است و این واقعیت با زور تفنگ و باروت از بین نمی رود. برای بەدست آوردن صلح دایمی ضرورت است که طالبان و دولت مردان افغان از خود گذری و تسامح کار گیرند که بدون آن رسیدن به صلح ممکن نیست. حال که امریکا به نحوی آماده است قضیه افغانستان را از طریق مذاکرات حل نماید نباید این چانس از دست برود. حال که مذاکرات بین طالبان و امریکا، به هر دلیلی که باشد، در مرحله ای امید بخش قرار دارد، نباید حکومت افغانستان و طالبان با فشاری روی مواقف خود این امید مردم را دوباره از بین ببرند و سبب ادامه جنگ شوند. به همین منظور، لازم است اولویت به صلح داده شود و هیچ چیزی حتی انتخابات مانعی در راه رسیدن به صلح قرار نه گیرد. موارد که باید روی آن تمرکز صورت گیرد، عدم انحلال و تخریب مؤسسات دفاعی و امنیتی، تحصیلی و تعلیمی، سیستم انتخابی برای آینده و پروژه های موجود اقتصادی است. بدون این چند مورد، دیگر هیچ موردی بر آوردن صلح و ثبات اولویت و برتریت نه دارد و باید مانع رسیدن به توافق برای حل بحران ۴۰ ساله افغانستان نه شود.

**تمرکز روی انکشاف اقتصادی و همکاری منطقوی**

افغانستان کشوری سرشار از منابع آبی، خاک های حاصل خیز برای زراعت و معادن دست ناخورده است. در پهلوی آن، افغانستان با داشتن بیش از ٦٠ در صد نسل جوان، بیشترین نیروی جوان را در بین کشورهای منطقه دارا است، که می تواند در رشد سریع اقتصادی کشور رول مهمی بازی کند. ولی منابع سرشار کشور و نیروی جوان وقتی پربار و مؤثر تمام می شوند که پروژه های کوتاه مدت و طویل مدت به سطح مرکز و ولایات در بخش های تعلیم و تربیه، صنعت، زراعت و استخراج معادن روی دست گرفته شود. برای این کار ضرورت طرح استراتیژی های پنج ساله، ده ساله و ۲۰ ساله است که در مشوره با متخصصین و کارشناسان ملی و بین المللی ساخته شود. این گونه استراتیژی ها باید با تغییر حکومت ها و روی کار آمدن رئیس جمهور و کابینه جدید قابل تغییر و تعطیل نباشند.

علاوتاً، باید روی ارزش اقتصادی چهار راه گونه افغانستان، که رئیس جمهور غنی همیشه بر آن تأکید می ورزد، بیشتر توجه شود. موقعیت افغانستان می تواند در ایجاد روابط دوامدار اقتصادی بین کشورها باعث به وجود آوردن ثبات دوامدار در منطقه شود. چین پلان وصل جهان را به خاک های خود دارد. پروژۀ یک سرک – یک کمربند به همین منظور طرح گردیده و کارهای آن تا حدودی قابل ملاحظه ای پیش رفته است. هر چند افغانستان در مسیر خطوط این پروژه قرار ندارد، ولی یگانه راه وصل آسیای میانه به جنوب آسیا، افغانستان است. برای وصل خطوط یک سر – یک کمربند در پاکستان، به همین خطوط در آسیای میانه باید از خاک افغانستان استفاده شود. بناً اهمیت افغانستان به این منظور برای چین، پاکستان و کشورهای آسیای میانه هویدا است. کشورهای جنوب آسیا به خصوص هند و پاکستان از جمله کشورهای صنعتی منطقه محسوب می شوند که ضرورت شان به انرژی و مارکیت های آسیای میانه هر روز بیشتر می شود. پروژه ای انتقال برق کاسا ۱۰۰۰ و پایپ لاین انتقال گاز(پروژۀ تاپی)، که گاز ترکمنستان را به هند و پاکستان انتقال می دهد، نشان دهنده ای خوب این مدعا است. این ضرورت در همین جا خلاصه نمی شود، بلکه کشورهای جنوب آسیا به مارکیت های آسیای میانه ضرورت دارند. این ضرورت دو طرفه کشورهای منطقه به یک دیگر و موقعیت افغانستان بین ایشان به عنوان پل ارتباطی، به اهمیت موقعیت جغرافیایی افغانستان می آفزاید. به شکل مختصر می توان گفت که افغانستان باید به جای میدان رقابت های نظامی و سیاسی کشورهای منطقه تبدیل شود به چهار راه بزرگ اقتصادی بین این کشورها. این وقتی ممکن است که صلح و ثبات سیاسی در کشور حکم‌فرما شود و به عوض سیاست های کوتاه مدت حذف یک دیگر، توجه شود به سیستم سازی و شفافیت در عرصه های قانون، قضاء، تعلیم و تربیه نسل جوان، انتخابات و حکومت داری خوب. اگر به این امور توجه صورت نه گیرد، حالت ناگوار و گسستۀ کنونی در کشور ادامه یافته چانس های بزرگی اقتصادی در منطقه از دست خواهد رفت.

**بی طرفی در منازعات کشورهای منطقه**

برای دوام صلح و ثبات سیاسی در افغانستان و برای تحکیم همکاری های اقتصادی در منطقه، مردم افغانستان، حکومت و گروه طالبان باید تشویش کشورهای منطقه را در خصوص استفاده از خاک افغانستان بر ضد کشوری دیگری، رفع سازند. حکومت آینده افغانستان باید پالیسی خارجی واضحی در باره چگونگی روابط افغانستان با پاکستان، هند و ایران داشته باشد و دست به اقداماتی عجولانه و مقطعی که باعث نفوذ یک کشور علیه کشور دیگر در افغانستان می شود، نه زند. افغانستان هر چند در برقراری روابط با کشورهای منطقه و جهان باید آزاد و مستقلانه عمل نماید ولی به بهانه آزادی در برقراری روابط نه باید به شکل آگاهانه و یا ناآگاهانه بازیچه سیاست کشورهای منطقه بر ضد یک دیگر شود.

منازعات و رقابت های منطقوی چین – هند و پاکستان – هند، شاید به علت سیاست های چین در بحر جنوبی چین، به مرحله جدید وارد شوند. ایران و کشورهای عربی هم به سوی رقابت های سوزنده و بنیان بر انداز در منطقه قدم می زنند. افغانستان به علت داشتن سرحدات مشترک با این کشورها، داشتن مشترکات لسانی، فرهنگی و مذهبی، می تواند به ساده گی متأثر شده و به میدان رقابت بین کشورها تبدیل شود. برای این که ازین رقابت ها و نتایج آن در امان باشد، مردم افغانستان و حکومت باید خطوط سیاست خارجی دولت را به شکل واضح به کشورهای منطقه اعلام نموده و برای حفظ دوامدار بی طرفی، حمایت بین المللی تقاضا نمایند. در پهلوی آن، باید ریفورم های جدی در داخل کشور صورت گیرد تا امکان کشاندن افغانستان به رقابت های منطقه ای به حد اقل آن کاهش یابد.

مهمترین اصلاحات باید در سیستم های صورت گیرد که باعث بی عدالتی اجتماعی بین اقوام، مذاهب و سایر ساکنین در کشور می شود. این ها عبارت اند از: سیستم تعلیمی و تحصیلی، سیستم انتخابات و حکومتداری، ارایه خدمات ملکی، تقسیم ثروت، استفادۀ عادلانه و برابر از منابع کشور و حضور عادلانه تمامی شهروندان در تمامی عرصه های زندگی اجتماعی، سیاسی و اقتصادی است. اگر افراد همه اقوام کشور به امکانات مساوی در تعلیم و تحصیل دست رسی نداشته باشند، این باعث انکشاف نامتوازن بین اقوام گشته که در طویل المدت مشکلاتی زیادی ایجاد خواهد کرد. اگر انتخابات پر از فساد باشد و راه ورود اقوام و افراد مشخص، بنابر دلایل قومی، مذهبی و ایدیولوژیکی، به پارلمان و سایر ارگان های دولتی گرفته شود، این باعث نارضایتی ساکنان کشور گشته و باعث ایجاد تفرقه بین اقوام می گردد. نفاق و نفرت بین اقوام می تواند به سادگی کشور را به رقابت های منطقه ای تبدیل نماید. اگر در ارایه خدمات ملکی به شهروندان به علایق قومی و مذهبی آنها توجه شود، این باعث شک و بی اعتباری شهروندان بالای سیستم گشته و راه مداخله را به کشورهای منطقه باز می کند.

**حل منازعات آبی**

برای رشد اقتصادی و استفاده اعظمی از منابع موجود آبی کشور، ضرورت است که دولت افغانستان روی استراتیژی کار نماید که به عوض تقابل، روی همکاری دو جانبه در خصوص مسایل آبی تمرکز داشته باشد. کشور های منطقه می توانند در تمویل و ساخت بندهای برق و آب گردان روی دریاهای افغانستان مفید واقع شوند. کنترول مؤثر آب و ساخت بندها باعث می شود از به هدر رفتن آب جلوگیری شود و کشورهای همسایه سهم خود را از آب بەدست آورند. پروژه های از قبل ساخته شده ای بعضی کشورهای همسایه روی دریاهای که از افغانستان سرچشمه می گیرند، می تواند باعث منازعات جدید بین افغانستان و این کشورها گردد. ایران و ترکمنستان بند بزرگ، بنام بند دوستی را روی آب های دریا هریرود – مرغاب ساخته اند. کشور ترکمنستان آب های دریای مرغاب را از سرحدات این کشور به مناطق دور از سرحدت انتقال داده و مزرعه های پنبه را از آن آبیاری می نماید. کشورهای تاجکستان و ازبکستان هم پروژه های مشابه را روی دریا آمو بنا نموده اند. علاوه بر آن، به علت ساخت یکطرفه دیوارهای محافظتی روی دریای آمو، این دریا قسمتی از خاک افغانستان را به تاجکستان ملحق ساخته و دریا مسیر جدیدی به خود گرفته است. حکومت افغانستان باید به این مسایل توجه جدی نموده، و با استفاده از تجارب بین المللی، مراجعه به فیصله های محاکم بین المللی، و با توجه با معاهدات موجود سرحدی و آبی با کشورهای همسایه، راه حل های دوجانبه، معقول، و دایمی جستجو نماید.

همکاری دو جانبه روی مسایل آبی وقتی ممکن است که دولت افغانستان از سیاست استفاده از آب به عنوان آله فشار جلوگیری نماید. در پهلوی آن به کشورهای پاکستان، ایران و کشورهای آسیای میانه فهمانده شود که کنترول آب های افغانستان در چارچوب معاهدات دو جانبه باعث جلوگیری از ضیاع آب گشته امکانات استفاده اعظمی، دایمی، و معقول را برای همه فراهم می کند. افغانستان و کشورهای منطقه باید بدانند که فکر داشتن صلاحیت عام و تام روی منابع آبی نه تنها اینکه در تقابل با حقوق بین الملل قرار دارد، بلکه باعث می شود که کشورهای ذینفع برای بەدست آوردن آب به فعالیت های تخریبی خود ادامه داده و از این کار افغانستان بیشتر از همه آسیب می بیند. در تنظیم آب ها، افغانستان برای جلب همکاری کشورهای همسایه می تواند به یکی از اصول حقوق بین الملل، که عدم استفاده رایگان از منابعی که با پول دیگران تنظیم شده است می باشد، مراجعه نموده همکاری مالی و تخنیکی کشورهای ایران، پاکستان، و آسیای میانه را برای تنظیم دریا ها در داخل کشور، تقاضا نماید. کشورهای همسایه نباید بدون اینکه مصارف مالی را متحمل شوند به شکل رایگان از حق آب که ادعا می کنند، استفاده نمایند. با این کار از یک طرف افغانستان منابع آبی خود را با مصارف کم کنترول خواهد کرد و از طرف دیگر کشورهای همسایه تقاضای غیر معقول در قبال حق آب نخواهند داشت.

**پایان**

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**درېیمه برخه**

**افغانستان**

### اتم څپرکی
### په لوی ننګرهار کې نوي او پخواني اسلام پال




د جلال‌اباد د جګړې پر مټ اسلام‌اباد غوښتل د خپل ګاونډي هېواد حکومت په خپله خوښه جوړ کړي، خو دلته عرب جهادیان ډېر برلاسي شول. د دې جګړې په پایله کې د افغانانو په منځ کې د بې اتفاقۍ تخم وشیندل شو. په ۱۹۶۰ز لسیزه افغانستان کې د کین اړخو او اسلام پالو غورځنګونو تر منځ کش مکشونه د راتلونکو درېیو لسیزو خونړیو پېښو او ورانیو پایله شول.

په افغانستان کې له سیاسي او ټولنیزو درځونو سره نړیوالو ایډیولوژیو ته د ګام اېښودلو ځای تش شو. لوی شمېر افغان محصلین، پوهان او د پوځ افسران له کمونېستي غورځنګ سره یو ځای شول. د هغوی پر خلاف یوه وړوکي شمېر پوهانو او دیني علماوو اپوزیسیوني غورځنګ جوړ کړ. دا تقابل په ۱۹۷۰ز لسیزه کې د سردار محمد داوود خان د ریاست پر مهال، هغه وخت جوړ شو چې په حکومت کې کمونېست پلوو د اسلام پالو د ځپلو هڅې پیل کړې. له دې سره پاکستان ته فرصت په لاس ورغی، د ۱۹۷۰ز لسیزې په منځ کې، پر افغانستان له شوروي یرغل او کمونېستي کودتا څخه ډېر وخت وړاندې یې افغان اسلام پالو مشـرانو ته پناه ورکړه او ۵۰۰۰ چریکي جنګیالي یې وروزل.

د ۱۹۷۸ز کال د اپرېل له کمونېستي کودتا سره ډېرو افغانانو مخالفت وکړ. د کمونېستان د قدرت له پیل سره په کلیوالو سیمو کې خلکو د ځمکو او نورو ټولنیزو کمونېست محوره اصلاحاتو مخالفت وکړ. د روسانو له یرغل سره سني مجاهدینو له پاکستان څخه خپله مبارزه پیل کړه. هغوی دا مبارزه په څلورو ټولنیزو شبکو کې پر مخ وړه.

لومړۍ شبکه د کابل پوهنتونونو پر شاوخوا ور ټوله وه، چې د مصر له اخوان المسلمین او د پاکستان له جمعیت علماء اسلام څخه یې الهام اخیست. د ګلبدین حکمتیار اسلامي حزب او برهان الدین رباني په مشرۍ د جمعیت ګوند هم پر دې شبکې پورې تړلی و.

بله شبکه د مولویانو، ملایانو او په پښتنو سیمو کې د مدرسو او مسجدونو هغه وه. په ننګرهار او خوست ولایتونو کې د دې شبکې مخکښان مولوي خالص او د هغه مرستیال مولوي جلال الدین حقاني وو، په سویل ختیځو ولایتونو لوګر او پکتیا کې مولوي محمد نبي محمدي او نصرالله منصور وو. د دې دوو ګوندونو تر سیوري لاندې په سویل لوېدیځو سیمو کې د جبهه طلباء په نوم ډلې کار کاوه. له دې شبکو څخه یوې هم د اسلامي حزب په څېر د نړیوالې اسلام پالنې موخې له ځان سره نه لرلې.

درېیمه شبکه د صوفیانو وه چې د پیر سیداحمد ګیلاني او صبغت الله مجددي له ګوندونو یې سرچینه اخیسته. په دې دوو ګوندونو کې، د افغانستان ملي اسلامي محاذ او د افغانستان د ملي نجات په جبهه کې شاهي پالو، عصري پالو او قومي مخورو هم ګډون کاوه. دې ګوندونو د صوفېزم نقشبندیه او قادریه طریقې پاللې.

څلورمه شبکه د پښتنو پر مخورو قومي مشـرانو او شاهي مخورو ور ټوله وه. له بهر مېشتو قومي مخورو او شاهي پاله مشـرانو څخه اسلام‌اباد د هغوی د ملت پالنې او شاهي پالنې د احساس په خاطر کرکه کوله، ځکه نو هغوی له ګیلاني او مجددي سره یو ځای شول. د دې شبکې اړین غړي دراني، کرلاڼي، غلجي، پوهان او پخواني دولتي مامورین وو. د پښتنو په ډېرو سیمو کې پخواني مشـران له مولویانو او اسلامي شبکو سره په سیالۍ کې وو.

د جګړې پیل له ختیځ ننګرهار څخه وشو، دا ولایت د خیبر له لارې له پاکستان سره لاره لري. دې زون کې څلور ولایتونه دي، ننګرهار، لغمان، نورستان او کونړ چې پوره د یوې پېړۍ راهیسې د افغانستان د سوداګرۍ نښلوونکې لاره بلل کېږي. وروسته له هغه چې په ۱۹مه پېړۍ کې سیکانو پېښور په ولکه کې کړ، ننګرهار د افغان شاهانو لپاره ژمنۍ پلازمېنه شوه. کابل او د هند نیمې وچې ته د لوی ننګرهار د نږدېوالي دا سیمه د زده کړو او پوهې پر مرکز بدله کړې وه. د افغان دولت له پرمختګ سره، له دې سیمې څخه دولت ته ډېرو بیروکراټانو، سیاستوالو، پوهانو او مذهبي علماوو مخه کړه.

له نسلونو څخه جلال‌اباد د اسلام پالو غورځنګونو او علماوو د شبکو مرکز و. په کابل کې مېشتو واکمنانو ته هم د دې سیمې له قومونو څخه حساس ستراتیژیک ګواښونه جوړ وو. په ۱۹۲۹ز کال د شینوارو په بغاوت کې د اصلاحاتو راووستونکي شاه، امیر امان الله خان له واک لیرې شو. په ۱۹۴۰ز لسیزه کې د صافیانو په بغاوت کې د مصاحبانو کورنۍ له واکه لیرې شوه. له دې سره کابل وهڅېده چې د پرمختیایي فعالیتونو له لارې پر دې سیمه کنټرول زیات کړي. په ۱۹۶۰ز لسیزه کې د بندونو جوړېدو او د کرنې د پروژو پلي کېدو دا سیمه لا پرمختللې کړه.

«د سیاسي اسلام ماته» کتاب لیکوال اولیور روی په دې اند و چې د ختیځو علماوو خورا ښو بنسټیزو او دودیزو اساساتو او امپریالېزم ضد انګېزه لرله چې د انګرېزانو او افغان پاچاهانو پر ضد یې مبارزه کوله. په دې سیمه کې ملایانو د کفارو پر ضد هم خلک هڅول. روی لیکي: ((د افغانستان د نورو سیمو په پرتله د ختیځ زون علماوو د بنسټپالنې بهیر ډېر د دود پالنې پر خلاف و.)) دا هم وېښوونکې نه ده ووایو چې ډېر مخکښ اسلام پال مشـران له همدې سیمې را پورته شوي دي.

**دوام لري...**

# د پرمختګ پیل

اکسوس کتابپلورنځی

دا چې دغه کتاب مو د لوستلو لپاره انتخاب کړی، رښتیا چې تاسې خپلو موخو ته رسېدل غواړئ او غواړئ چې سبا مو له نن ښه وي. ممکن تاسې غواړئ په خپل کسب وکار کې تر بریا ورسېږئ، د ژوند کولو لپاره ښه لار وټاکئ، نورې زده کړې هم وکړئ، د ګډ ژوند له ملګري سره ښه اړیکه ولرئ، د ژوند معنوي اړخ مو تر ټولو پیاوړی کړئ او بالاخره هغه څه ته چې تاسې یې غواړئ، ورسېږئ.

زه کلک باور لرم چې تاسې دا هرڅه کولای شئ. ستاسې داخلي انرژي په څپو راځي او هغه مو تر هرڅه رسوي. خو رښتیا همدا اوس خپلو موخو ته د رسېدو لپاره پوره امکانات لرئ؟ ایا پوهېږئ څنګه په خپلو کارونو کې پر یو پیاوړي او بریالي کس بدل شئ؟ پیاوړې اړیکې ولرئ او تر ټولو ژر خپلو موخو ته ورسېږئ؟ د یو انسان په توګه څنګه کولای شئ له خپل ذهن او ځواک څخه پوره پوره استفاده وکړئ؟ څنګه کولای شئ خنډونه له مخې لرې کړئ؟ ایا سخت کار به کوئ، ډېر کار به کوئ یا به د یو داسې څه د رارسېدو په هیله وئ، چې هغه مو یوه ښه لوري ته رهبري کړي؟

اصل خبره دا ده چې دغه هرڅه ته د رسېدو لپاره باید یو اغېزناک او ستراتیژیک پلان ولرئ. ډېرو کسانو د زده کړو پر مهال ډېر څه زده کړي دي. د ستونزو او ربړو سختو تجربو هغوی ته ښودلې، چې ځینې وخت د ښه والي او کله کله د بدوالي پر لور ګام واخلي. تاسې موخې، هیلې او انګېزې لرئ. ایا داسې فکر کوئ، که چېرې ډېرې هڅې وکړئ، هغه به په طبیعي ډول لاسته راوړئ؟ لیکوال وایي، یوه ورځ ما هم ستاسې په څېر فکر کاوه، خو یوه ورځ مې فکر بدل کړ، چې فردي پرمختګ او موخو ته رسېدل خپله نه رامنځ ته کېږي؛ بلکې د هغه لاسته راوړلو او رسېدو لپاره باید یو اغېز لرونکی پلان ولرم. باید د خپل پرمختګ مسوولیت خپله ومنم. باید پوه شم چې بل هېڅوک زما د ژوند جوړولو مسوولیت نه لري. که غواړم چې ژوند مې ورځ تر بلې ښه شي، باید همدا زه خپله لاس پکار شم.

په همدغه کتاب په همدې اړه کوښښ کوو، چې له تاسې سره یوځه مرسته وکړو، څو تاسې پر هماغه کس بدل شي چې وړتیا یې لرئ. موخو ته د رسېدو لپاره له مخکې پلان نیول، هغه کلي ده چې له خپلې ټولې انرژۍ د ګټې اخیستنې په پار ستاسې پر مخ ټولې دروازې پرانیزي. په راتلونکو نوي ورځو کې به تاسې ته هغه مهم او اساسي موارد ذکر شي، چې پر مټ به یې تاسې ډېر عاید لرونکي کسان جوړ شئ. مهمه نه ده چې همدا اوس تاسې کوم ځای کې یاستئ او یا له کومو موانعو سره مخ یاستئ. تر ټولو مهمه دا ده چې تاسې نن دغه چانس په لاس کې لرئ، چې له همدې نن ورځې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره کار پیل کړئ. څومره وخت ته اړتیا لرئ، څو مو کار پیل




کړئ؟ هره ورځ یوازې پنځلس دقیقې کاپي دي، چې تاسې یې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره مصرف کړئ او همدې چارې ته نوي ورځې ادامه ورکړئ. د هرې ورځ په اړه هماغه تاکیدي متن ولولئ، په اړه یې فکر وکړئ، اصلي موخه یې تر لاسه کړئ او هغه له ځان سره ښه هضم او بیا یې د عملي کولو لپاره اقدام وکړئ.

که هره ورځ دری میاشتې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره کار وکړئ، خپله ټوله داخلي انرژي به لاسته راوړئ او هغه وخت به اګاهانه پرمختګ ستاسې یو عادت ګرځېدلی وي. که تاسې خدای مه کړه تېر وخت ته ور وګرځئ او د هغه په یاد کې پاتې شئ، له دې ټولو پرمختګونو به پس پاتې شئ. پر دې لاره مو د تللو پر وخت همدا کتاب لاس نیوی کوي، ویې لولئ!

مینه وال کولای شي یاد کتاب په اکسوس او د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې په مناسب قیمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Motivation | Brian Tracy | ۱۰۰؋ |
| ۲ | Delegation | | ۱۰۰؋ |
| ۳ | Negotiation | | ۱۰۰؋ |
| ٤ | Leadership | | ۱۰۰؋ |
| ٥ | Marketing | | ۱۰۰؋ |
| ٦ | ژوند ته مو بدلون ورکړئ | نور الله سلطان زوی | ۷۰؋ |
| ۷ | ملغلرې خبرې | ګلاب بهار | ۱۰۰؋ |
| ۸ | ژوند وکړه | عبیدموسم | ۷۰؋ |
| ۹ | څنګه دوستان پیدا کړئ او پر نورو نفوذ وکړئ؟ | ډیل کارنیکی/ ډاکتر نبی مصداق | ۱۷۰؋ |
| ۱۰ | ناروغ | مومند محمدي اخړ | ۷۰؋ |
| ۱۱ | افغانستان، پاکستان، هندوستان یک تغییر بنیادی | دوکتور شیدا محمد ابدالی | ۲۰۰؋ |
| ۱۲ | افغانستان، پاکستان، هندوستان یو بنسټیز بدلون | ډاکټر شیدا محمد ابدالی | ۲۰۰؋ |
| ۱۳ | مدیریت منابع انسانی | دکتر اسفندیار سعادت | ۱۰۰؋ |
| ۱٤ | داستان جهاد افغانستان | احمدرضوان تارر/عمر آییز | ۱۰۰؋ |
| ۱٥ | د افغانستان د جهاد داستان | احمدرضوان تاوړ/علی یوسفزی | ۱۰۰؋ |
| ۱٦ | پوتین و نظم نوین جهانی | انتشارات ګنجور | ۱۰۰؋ |
| ۱۷ | د پیسو اقتصاد | امان الله ورین | ۳٥۰؋ |
| ۱۸ | کامل ترین بانک سوالات مدیریتی | غلام حسن زاهدی | ٤۰۰؋ |
| ۱۹ | شرح کود جزا | محمد اشرف رسولی | ٦٥۰؋ |
| ۲۰ | د وکالت فن | علی‌اکبرریاضی/ګل‌رحمن‌رحمانی | ٥٥۰؋ |
| ۲۱ | د بریا چټکې لارې | محمد عمر علمي | ٦۰؋ |
| ۲۲ | جادوی اعتماد به نفس | جمشید راسخ | ۷۰؋ |
| ۲۳ | زما د قطب ستوری | محمدالله شاهکار | ۱۰۰؋ |
| ۲٤ | د مینې رازونه | حسیب الرحمن ساحل | ۱۰۰؋ |
| ۲٥ | د جذب ځواک | برایان ټریسی او ران ادډن | ۱۰۰؋ |
| ۲٦ | د پرمختګ پیل، په ۹۰ ورځو کې مو ژوند بدل کړئ | جان مکسویل | ۱۳۰؋ |
| ۲۷ | د رهبرۍ اخلاق، څنګه کاروباري مشري وکړو؟ | | ۱۰۰؋ |
| ۲۸ | د آزادۍ نارې او د مغلګي او غمیزه | سخی سرور میاخیل | ۱۲۰؋ |
| ۲۹ | د ملکي خدمتونو د بستونو لپاره د کانکور لارښود | پوهاند محمد بشیر دودیال | ۳۰۰؋ |
| ۳۰ | نقش قرضه های بانک های خصوصی در تشویق تشبثات کوچک و متوسط در افغانستان | پوهنیار ناهید سادات | ۱٦۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٤۰ |
| € | ۸٦,۵۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانۍ

# د مالي سیاست اهداف او وسایل

**لیکنه: ګلاب بهار-دویمه برخه**

**۴- د عدالت هدف:** لکه څنګه مو چې مخکې ذکر کړل چې د رفاه هدف په عمومي ډول د ټولو خلکو لپاره د رفاه د سطحې لوړول غواړي، خو د عدالت هدف په ارتباط اساسي پوښتنه دا ده، چې ایا له دې مجموعي رفاه څخه ټول خلک تقریباً په مساوي ډول مستفد کېږي او که یوه زیاته اندازه تفاوت د مادي شیانو د توضیع په واسطه داحتیاجاتو په رفع کولو کې وجود لري؟ په داسې حال کې چې د رفاه هدف د اجتماعي محصول او همدارنګه د احتیاجاتو د رفع کولو اعظمي کول غواړي، نو د عدالت هدف مطابق باید دغه اجتماعي محصول په عادلانه ډول د ټولنې پر افرادو وویشل شي.

د دغه محصول مساویانه وېش د اشخاصو تر منځ په دې پورې اړه لري، چې هر کس په څومره اندازه د تولید وسایل په اختیار کې لري؟ او په کومه اندازه یې دغه وسایل د تولید په پروسه کې پر کار اچولي دي؟ هغه وخت چې په یو اقتصاد کې مادي یا د تولید وسایل د افرادو تر منځ په غیرعادلانه ډول وېشل شوي وي، نو په دې صورت کې د خلکو تر منځ د عایدو وېش هم په هماغه اندازه په غیرعادلانه ډول صورت نیسي؛ خو هغه وسایل چې اقتصادي سیاستونه یې نوموړي هدف ته د رسېدو په خاطر پر کار اچوي، یو ډول د هغه دولت مستقیم مداخلات دي چې د اجورو د تعین یا د متشبثینو د مفادو محدودولو په واسطه یا د دې په څېر نور عوامل چې د خلکو د اقتصادي تصمیمونو ازادي محدودوي او د هغې په واسطه اقتصادي جوړښت اخلالوي، د مالي اقتصاد د وسایلو پر کار اچونې له لارې برعکس دولت کولای شي، بې له دې چې بازاري میکانېزم اخلال کړي، هغه وسایل چې مالي سیاست یې نوموړي هدف ته د رسېدو لپاره په کار وړلی شي، عبارت له دې څخه چې د دولت د مالیاتو وېش باید داسې افرادو ته صورت ومومي چې هر کس د خپل مالي توان او قدرت له مخې د مالیې په تادیه کولو کې برخه واخلي. یانې مالیاتي معافیتونه صورت ونیسي، څو د عدالت هدف ترلاسه شي.

**د مالي سیاست وسایل**

د مالي سیاست ابزار یا وسایل په دوه ډوله دي، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

الف- مالیات: د مالي سیاست لومړۍ وسیله مالیه ده، چې په هغه کې ټول هغه عواید شامل دي، چې پانګه اچونو او د ملکیتونو له لارې یې دولت تر لاسه کوي، چې بیا همدغه مالیات د دولت د تمویل لویه عایداتي سرچینه هم بلل کېږي.

په هغه وخت کې چې تقاضا کمه وي، نو دولت د دې لپاره چې په تقاضا کې زیاتوالی راولي، د مالیاتو د وضع کولو اندازه ټیټوي او کله چې د مالیاتو اندازه کمه شي، د خلکو د تصرف وړ عاید زیاتوالی کوي او د عاید زیاتوالی د تقاضا د تحریک سبب کېږي.

ب- د دولت لګښتونه: د دولت په لګښتونو کې سبسایډۍ، د خیر او ښېګڼې پروګرامونه، د عامه کارونو پروژې او دولتي معاشات شامل دی. څوک چې د دغو لارو په وسیله عواید تر لاسه کوي، نو په دې صورت کې د دوی تقاضا زیاتیږي، د تقاضا زیاتوالی د اقتصادي ودې د لوړوالي سبب کېږي. په هغه وخت کې چې انفلاسیون په لوړه اندازه موجود وي، نو دولت کولای شي د خپلو لګښتونو په کمولو سره خپل ځان په بازار کې د اجناسو او خدماتو په مقابل کې له سیالۍ څخه وژغوري. کله چې دولت خپل لګښتونه کم کړي، نو د اجناسو او خدماتو قېمتونه ټیټېږي؛ خو کله چې د رکود حالت وي، مجموعي تقاضا کمه وي، نو په دې صورت کې دولت د زېربنایي پروژو له لارې خپل لګښتونه زیاتوي، څو په دې ډول مجموعي تقاضا او د استخدام سطحه لوړه کړي.

**د مالي سیاست ډولونه**

**مالي سیاست درې ډولونه لري، چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:**

لومړی- خنثی مالي سیاست: خنثی مالي سیاست په خپل زاړه حالت د مالي سیاست د پرېښودلو په مانا دی. نوموړی سیاست هغه وخت پکارېږي کله چې د یو دولت ټول لګښتونه د راټولو شوو مالیاتو په وسیله پوره کېدای شي.

دویم- پراختیایي مالي سیاست: دا ډول مالي سیاست د اقتصادي څوړتیا پر مهال کله چې د دولت لګښتونه تر عوایدو لوړ وي او بودیجه یې له کسر سره مخ وي، ترې استفاده کېدای شي .

**درېیم- انقباضي مالي سیاست:** دا هغه سیاست دی چې د انفلاسیون د منځه وړلو په موخه یې دولت پلی کوي، چې دلته دولت د خپلو مصارفو د راکمولو او یا هم د مالیاتو پر وضع کولو سره کولای شي چې هغه لوړوالی چې په نرخونو کې د اجناسو او خدماتو په بازار کې اجناسو او خدماتو ته د زیاتې تقاضا په وجه رامنځته شوی وي، کنترول کړي. په دې مانا چې کله دولت خپل مصارف کم کړي، نو ښکاره خبره ده چې ورسره مجموعي تقاضا راکمیږي او بالاخره تولید کوونکي د دې لپاره چې تقاضا کمه ده، تولید بس کوي او کارګرو ته رخصت ورکوي، چې دا بیا په خپل وار سره پر تقاضا منفي تاثیر کوي او د تقاضا منحني بېرته ښکته او چپ لور ته راخوځیږي او که خپل مالیات لوړ کړي، نو هم یې په نتیجه کې د خلکو د خرید قوت د لوړې مالیې په وضعه کولو سره کمیږي چې دا بیا په خپل نوبت سره پر مجموعي تقاضا تاثیر کوي او منحني یې لاندې او چپ طرف ته حرکت کوي، چې په نتیجه کې هغه انفلاسیوني فاصله چې راپیدا شوي وه، له منځه ځي او اقتصاد د تعادل او توازن حالت عوره کوي. له نوموړي مالي سیاست څخه هغه وخت کار اخیستل کېږي، کله چې د دولت عواید له لګښتونو څخه زیات وي او تخصیص شوې بودیجه یې زیاتوب کوي.

د مالي سیاستونو وروستني دوه ډولونه یانې پراختیایي او انقباضي مالي سیاستونه د یو اقتصادي جریان پر بېلابېلو برخو اغېز لري چې له نوموړو برخو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو:

**الف- ټولیزه تقاضا:** پوهېږو چې مجموعي تقاضا د اقتصادي فعالیتونو د خوځښت لویه وسیله ده. د مالي سیاست له مخې هم کېدلای شي چې په مجموعي تقاضا کې زیاتوالی او کموالی راوستل شي. د پراختیایي مالي سیاست له مخې دولتونه له دوو لارو په مجموعي تقاضا کې زیاتوالی راولي؛ لومړی داسې چې دولت د مالیاتو کچه په خپل حال ساتي، ولې د بېلابېلو لارو لکه د توکو پېرودنه او نور و په وسیله خپل لګښتونه لوړوي. دا چې د دولت لګښتونه هم د مجموعي تقاضا یوه برخه ده، ځکه خو دا چاره د مجموعي تقاضا د زیاتوالي لامل کېږي. دویم دولت د مالیاتو اندازه کموي او وګړو ته بلاعوضه مرستې او کومکونه ورکوي، د مالیاتو د کچې کموالی او د بلاعوضه مرستو ورکړه د وګړو په واک کې عاید زیاتوي او د عاید زیاتوالی په خپل وار سره د لګښت لپاره د وګړو تقاضا زیاتوي. د ټولیزې تقاضا د ډېرولو نوموړې لاره د کینزي اقتصاد پوهانو له لوري وړاندیز شوې ده. په هغو هېوادونو کې چې پر سود ولاړ اقتصادي سیستم لري او دولتونه یې د بودیجې له کسر سره مخ وي، نو د بودیجې د کسر اندازه یې د قېمتي پاڼو د خرڅلاو لکه بانډونو او نورو د خرڅلاو په وسیله پوره کېږي. دا چاره د وګړو د سپماګانو په راټولولو کې دولت د خصوصي سکټور سره په سیالۍ کې غورځوي او پر پانګه د سود د کچې د لوړوالي لامل کېږي. پر پانګې د سود لوړه کچه د پانګونې لګښتونه لوړوي او په یو هېواد کې د پانګونې د بهیر د ځنډ لامل کېږي .

**ب- د تبادلې نرخ:** دولتونه د خپل کورني صنعت د ساتلو او غښتلي کولو په موخه له مالي سیاست څخه هم کار اخلي. داسې چې بهر ته د صادریدونکو توکو او چوپړتیااوو خدماتو پر عاید مالیه معاف کوي. د دولت د نوموړي سیاست له امله بهر ته د صادراتو بهیر لا پسې چټک او هېواد ته د بهرنیو اسعارو د راماتېدو او د کورنۍ کرنسۍ د تقاضا د زیاتېدو لامل کېږي. همدارنګه دا هم باید په پام کې ونیول شي چې د پراختیایي مالي سیاست پر وخت کله چې د دولت د پور اخیستلو له امله د سود کچه لوړه وي، نو خلک د په کور دننه د پانګونې د تدارک پر ځای له نورې نړۍ څخه پانګه واردوي، نور هېوادونه او وګړي هم یو هېواد ته د خپلې پانګې د ورود په موخه د واردوونکي هېواد د کرنسۍ په مقابل کې د خپلې کرنسۍ نرخ یو څه راغورځوي. د تبادلې د نرخ نوموړې را غورځېدنه د وارداتو د بیو د کموالي او نورو هېوادونو ته د یو هېواد د صادراتو د بیو د لوړوالي لامل کېږي او بالاخره د یو هېواد سوداګریز بیلانس له کسر سره مخامخ کوي، ځکه خو غوره دا ده چې د کورنۍ کرنسۍ د تبادلې د نرخ د لوړوالي لپاره د مالي سیاست پر صادراتو د مالیې معاف کول او یا د کمولو سیاست وکارول شي. همدارنګه هغه کاروبارونه هم باید پر مالیاتي معافیت ونازول شي، چې تولیدات یې د وارداتو د تعویض کېدلو لامل کېږي.

## د بشري حقونو خپلواک کمېسیون: د بین الافغاني خبرو د پیلېدو لپاره باید هڅې چټکې شي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د بین الافغاني خبرو د پیلېدو لپاره د هڅو د چټکېدو غوښتنې تر څنګ د تاوتریخوالي او وینې تویېدنې لپاره تر ټولو د ښه چلند په توګه د خبرو اترو پر اړتیا ټینګار کړی دی.

د دغه کمېسیون له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، جګړه په افغانستان کې د قانون د تطبیق او د بشر حقونو د رعایت پر وړاندې تر ټولو سخت خنډ دی. سرچینې زیاته کړې، د کمېسیون راپورونه د ملکي مرګ ژوبلې د بې مخینې او لړزوونکي زیاتوالي ښکارندویي کوي. روانه جګړه روغتیایي، ښوونیزو خدماتو او عدالت ته د هېوادوالو د لاسرسي خنډ ګرځېدلې ده .

په خبرپاڼه کې راغلي، امنیتي اندېښنو د هېوادوالو د تګ را تګ، سفر او سوله ییزو غونډو جوړولو پر حق اغېز کړی دی. له جګړې راولاړه شوې مرګ ژوبله د بې‌سرپرستو کورنیو او یتیمو ماشومانو د زیاتوالي لامل شوې، چې په ښارونو او کلیو کې د ماشومانو د بشري حقونو پر وضعیت یې اغېز کړی دی.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، د شخړې دوام همدا راز د پانګې اچونې او کار رامنځته کولو فرصتونه کم کړي او بوختیا ته د هېوادوالو د لاسرسي حق یې اغېزمن کړی دی. د خبرو اترو پایله باید د بشري حقونو د نقض دې جدي مواردو ته د رسېدنې زمینه برابره کړي.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې، اوسنۍ جګړه د زیانمنو شویو ډلو، لکه داخلي بې ځایه شویو، د جګړې له امله معلول شویو افرادو، سرتېرو، ماشومانو او کونډو د زیاتېدو لامل شوې، چې په ډېری مواردو کې له خپلو اساسي بشري حقونو محروم دي.

یاد کمېسیون دغه راز ویلي، پر دې سربېره، یادې ډلې د دوی پر ژوند د جګړې له ویجاړوونکي اغېز سره سره، د سولې په بهیر کې رون او تعریف شوی نقش نه لري او منسجم غږ یې په دې مهم بهیر کې نه ښکاري. دواړه اړخونه باید د خبرو اترو په بهیر او هوکړه کې د دې ډلو د غوښتنو او اندېښنو د ځایولو لپاره پر روښانه میکانېزمونو توافق وکړي.

## ټاکنو خپلواک کمېسیون: په راتلونکې اونۍ کې به د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان شي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، په راتلونکې اونۍ کې به د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د لومړنیو پایلو د اعلان ژمنه تر دې دمه د یاد کمېسیون له لوري دوه ځلې نقض شوې ده.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ازادي راډیو ته ویلي، ټاکل شوې چې را روانه اونۍ د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان شي.

هغه زیاته کړې: «د دې اونۍ تر پایه به د تفتیش او بیاشمېرنې پروسه ختمه شي، په بله اونۍ کې به تخنیکي کارونه بشپړ شي او پایلې اعلانوو».

سادات ویلي، په ۱۳ ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرلو او تفتیش بهیر بشپړ شوی، په نورو ولایتونو کې هم روان دی، خو په پنجشیر، تخار، جوزجان، فاریاب او سرپل ولایتونو کې ځینو ټاکنیزو ټیمونو د دغه بهیر مخه نیولې ده.

د ټاکنو کمېسیون چارواکي وایي، د معترضینو له خوا د دغو ولایتي دفترونو د بیا پرانیستې په موخه له امنیتي چارواکو سره په تماس کې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ۳۴ ولایتونو کې د ۸۲۵۵ محلونو د رای شمېرنې او تفتیش بهیر د تېرې اونۍ د شنبې په ورځ پیل کړ، خو دغه پروسه د ځینو ټاکنیزو ټیمونو له مخالفت سره مخ او د دریو ورځو لپاره وځنډول شوه چې بیا ځلې د یکشنبې په ورځ پیل شوه.

په ورته وخت کې پر ټاکنو د څار ځینې بنسټونه ټینګار کوي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون دې د لومړنیو پایلو د اعلان لپاره نېټه دقیقه او په خپله ژمنه دې عمل وکړي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ ویاندې سمیرې رسا په دې تړاو ازادي راډیو ته ویلي: «د ټاکنو کمېسیون که چېرې داسې تصمیم لري او پرېکړې یې د قوانینو، لایحو او طرزالعملونو پر بنسټ وي یو مثبت ګام دی، خو باید د څارونکو بنسټونو او ټاکنیزو ټیمونو چې د ټاکنو په پروسه کې دخیل دي، قناعت خپل کړي، څو د پروسې مخه ډب نه کړي».

د یادونې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د روان کال د تلې په شپږمه تر سره شوه چې لایې هم لومړنۍ پایلې نه دي اعلان شوې. که څه هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر اوسه دوه ځلې د لومړنیو پایلو د اعلان نېټې مشخصې کړې، خو نقض شوې دي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲۰مه | ٤٦٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٤ | ١٨ | ٢٠ | ١٦ | ٢٢ | ٢٠ |
| ٢ | ٦ | ٧ | ٧ | ١٠ | ٨ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۳ | لمر ختل ۰٦:۲۹ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:۲۸ | ماښام ۰٤:٤۸ | ماخوستن ۰٦:۱۵

## نړۍ




## نیپال: هند دې ژر تر ژره زموږ له خاورې خپل پوځیان وباسي



په نیپال کې د لاریونونو په زیاتېدو سره، د دغه هېواد لومړي وزیر کې پي اولي ویلي، توري اوبه د نیپال، هند او تبت تر منځ یوه دری اړخیزه مسئله ده او هند باید سملاسي له هغې سیمې خپل پوځیان وباسي.
هغه دغه راز زیاته کړې چې توري اوبه د نیپال برخه ده.
دا لومړی ځل دی چې د نیپال لومړی وزیر د هند له نوي حکومتي نقشې پیدا شوي جنجال په هکله خپل دریځ په عمومي ډول څرګندوي.
دا په داسې حال کې ده چې هند په خپله نوې نقشه کې توري اوبه خپله سیمه بولي، خو دا سیمه د نیپال په لوېدیځه څنډه کې ده.
تر اوسه هند د نیپال دې دریځ ته کوم غبرګون نه دی ښودلی، خو وایي چې د نیپال له پولې سره د هند په نوې نقشه کې کومه لاسوهنه نه ده شوې.
د نیپال لومړي وزیر کې پي اولي د دغه هېواد د کمونېست ګوند ځوانانو څانګې ته په خبرو کې ویلي: «موږ یو انچ ځمکه هم چا ته نه پرېږدو. هند دې سملاسي له دې ځایه ووځي».
هغه دغه راز خبرداری ورکړی چې که هند له دې سیمې خپل پوځیان ونه باسي، له ناوړه پایلو سره به مخ شي.
دا په داسې حال کې ده چې د هند په نقشه کې د نیپال د تورو اوبو شاملېدو له امله له اونیو راهیسې په دغه هېواد کې لاریونونه روان دي. د راپورنو له مخې، د نیپال واکمن او اپوزیسیون ګوندونه هم په دې برخه کې یو دریځ لري.

## د پاکستان پخوانی لومړی وزیر نوازشریف د درملنې لپاره لندن ته لېږل شوی



د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، د دغه هېواد پخوانی لومړی وزیر نوازشریف د درملنې لپاره لندن ته تللی دی.
نوموړی په هغه ځانګړې الوتکه کې چې هوایي امبولانس او د عملیات او بېړنۍ څارنې خونه لري، لېږدول شوی دی.
د پاکستاني رسنیو د راپور له مخې، لندن ته له هغه سره یې ورور شهباز شریف او د ډاکترانو او نرسانو یوه ډله هم ملګرې وه.
د پاکستان د مسلم لیګ ن ګوند یوه ویاند هم ویلي چې نوازشریف ته تر پرواز مخکې ټولې ضروري دواوې ورکړل شوې دي او د ډاکترانو او نرسانو تر کلکې څارنې لاندې و.
د هغه په خبره، نوازشریف لومړی په الوتکه کې قطر او له هغه ځایه لندن ته لېږدول شوی دی.
دا په داسې حال کې ده چې د اسلام اباد سترې محکمې د اکتوبر په ۲۹مه د روغتیایي دلایلو له مخې، د هغه د محاکمې پروسه دوې میاشتې وځنډوله.
د یادونې ده چې د پاکستان پخوانی لومړی وزیر نوازشریف له اوږدې مودې راهیسې پر نوموړي د لګول شویو تورونو او فساد له کبله بندي و، چې په دې وروستیو کې یې د ناوړه روغتیایي حالت په اړه خبرونه خپاره شول. په ورته وخت کې له نوموړي سره یې لور مریم نواز هم بندي وه، چې څه موده وړاندې په ضمانت له بنده خوشې شوه.


## وزارت خزانه امریکا یک سازمان مستقر در افغانستان را تحریم کرده است



وزارت خزانه ایالات متحده سازمان رفاه اجتماعی نجات را از بهر نقش داشتن در فراهم سازی پول به گروه داعش تحریم کرده است.
در یک اعلامیه وزارت خزانه ایالات متحده آمده ست که سازمان نجات، زیر پوشش کمک های خیرخواهانه، برای تسهیل انتقال پول و حمایت از فعالیتهای شاخه خراسان داعش در افغانستان کار کرده است.
در اعلامیه از تحریم سید حبیب احمد خان رهبر سازمان نجات و روح الله وکیل از حامیان این سازمان نیز یاد شده است.
وزارت خزانه ایالات متحده می گوید که سازمان نجات در اواخر سال ۲۰۱٦ در کابل ایجاد شد.
ایالات متحده به این باور است که سازمان رفاه اجتماعی نجات از لحاظ مادی و مالی شاخه خراسان داعش را پشتیبانی کرده است و یا پشتیبانی مادی وفنی را به کالاها یا خدمات در پشتیبانی از این گروه فراهم ساخته است.
در بخشی از اعلامیه وزارت خزانه داری امریکا آمده است: «در اواخر ۲۰۱٦، رهبران افغانی شاخه خراسان داعش، نشست های برنامه ریزی را زیر پوشش نشست همبستگی سلفی با حمایت سازمان نجات برگزار کردند. رهبران اجرایی نجات و رهبران برجسته سلفی در افغانستان نشست را رهبری کردند، برخی از آنان پشتیبانان مالی نجات بودند. روح الله وکیل یکی از کسانی که تحریم شده است یکی از شرکت کننده گان این نشست بود».
در اعلامیه آمده است که در اواخر سال ۲۰۱٦، سازمان رفاه اجتماعی نجات از سوی یکی از فراهم کننده گان داعش شکل داد. یک استخدام کننده شاخه خراسان داعش در سازمان نجات کار کرد و در کابل به این گروه سربازگیری کرد و زمینه سفر آنان را به ننگرهار فراهم ساخت.


## ژوند

## انار د شریانونو د بندښت مخنیوی کوي



په ټوله کې مېوه د بدن لپاره ګټوره ده، خو ځیني مېوې په بېلو وختونو کې خپلې ځانګړې ګټې هم لري. په مېوه کې د بدن د اړتیا ټول مواد په اصلي شکل پیدا کېږي. د بېلګې په توګه، انار چې له خوړلو پرته یې ان په لیدلو د انسان زړه تازه کېږي او د خوښۍ احساس ورکوي.
انار د زړه ناروغیو، لوړ فشار، التهاب او ځینو سرطانونو، په تېره بیا د پروستات سرطان لپاره تر ټولو ښه نسخه ده. انار د فیبر اصلي سرچینه ګڼل کېږي او په زیاته اندازه ویټامین اې، سي، اي، اوسپنه او انتي اکسیدان لري.
د انارو اوبه د پروستات له سرطان څخه مخنیوی کوي؛ د هغې څېړنې په پایله کې چې په ۲۰۰٦ ز کال کې تر سره شوه، ثابته شوې چې د ورځې یو ګیلاس د انارو اوبو څښل د پروستات پر سرطان د ډېرو اخته کسانو درملنه کړې ده او دغه ناروغي یې تر ټولو لږې کچې ته راټیټه کړې ده.
په ۲۰۰۴ ز کال کې پر هغو کسانو چې شریانونه یې تنګ شوي وو، یوه څېړنه تر سره شوې او ثابته کړې یې ده چې د ورځې یو ګیلاس د انارو اوبه کولای شي په رګونو کې ان د دریو کلونو مخکیني رسوب شوي کلسټرول له منځه یوسي او دغه راز په وینه کې د کلسټرول اندازه کنټرول کړي.

## هېڅوک ستاسو هیلې په اوبو نه شي لاهو کولای



یوه ځوان د بېس بال له لوبې سره ډېره مینه درلوده، غوښتل یې دغه لوبه وکړي او د دې لوبې ښه لوبغاړی شي. له دې لوبې سره یې مینه ورځ تر بلې ډېرېده. غوښتل یې د ښوونځي په ټیم کې شامل شي، خو په ښوونځي کې د دې لوبې لارښود ورته چانس ور نه کړ او ورته ویې ویل:
خواشینی یم زویه! زه دغه کار نه شم کولای! ته ډېر کوچنی یې، ته نه شې کولای له دې ټیم سره مرسته وکړې. د ټیم لارښود نه غوښتل دې ځوان ته بې احترامي وکړي، هغه یې یوازې طبیعت او ظاهري جوړښت ته کتل. دا چې پر تاسې څوک باور نه لري، یوه کوچنۍ خبره ده، هغوی ستاسې اصلي هیلو ته زیان نه شي اړولی.
خلک ډېری وخت تاسې نه هڅوي، لامل یې دا دی چې هغوی نه شي کولای ستاسې احساس درک کړي. خدای پاک ستاسې هیلې د هغوی په زړه کې نه دي اېښې، بلکې ستاسې په زړه کې یې اېښې دي. مه پرېږدئ چې د هغوی ناهیلي یا نه هڅونه تاسې له خپلې موخې را وګرځوي. ایمان او باور ولرئ. هیلې همداسې تازه وساتئ او تل هڅاند اوسئ. تاسې له خدای پاک پرته بل هېچا ته اړتیا نه لرئ.